# لنډ راپور: په افغانستان کې بدني مجازات او د اعدام سزا

یوناما، د بشري حقونو څانګه

د ۲۰۲۳ کال د مې میاشت

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION
IN AFGHANISTAN

د دې راپور ټول حقونه خوندي دي. یوناما. ۲۰۲۳ ©
د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا تولید شوی
دیزاین: یوناما ©

# منځپانګې

مخینه ............................................................................................................ ۴
۱.۱ نړیوال قانوني چوکاټ .................................................................. ۷
۱.۲ کورنی قانوني چوکاټ .................................................................. ۱۰
۱.۳ عدالت ته لاسرسی ...................................................................... ۱۱
۲.۱ د ۱۵ اګست ۲۰۲۱م څخه وروسته مستند شوي بدني مجازات ................................ ۱۲
۲.۲ قضايي بدني مجازات .................................................................. ۱۲
۲.۳ د غیر قضايي ارګانونو لخوا تطبیق شوي بدني مجازات ............................................ ۱۳
۲.۴ اضطراری بدني مجازات .............................................................. ۱۳
۳. د اعدام یا مرګ سزا ..................................................................... ۱۵
پایلې ۱۶

## مخبنه

د طالبانو د لومړي رژیم (۱۹۶۶ - ۲۰۰۱) لاندې، علني بدني مجازات[1] (په دُرو باندې د وهلو او د بدن د غړو پرې کولو په ګډون)، اعدامونه چې د چارواکو لخوا په لویو ځایونو کې لکه ورزشي لوبغالي او د ښار په چوکونو کې د هغه کسانو پر وړاندې ترسره کیدل چې په جرمونو محکوم شوي وو.[2] په هغه وخت کې، په علني اعدامونو او بدني مجازاتو کې د بشري حقونو د جدي سرغړونو په اړه اندیښنې راپورته شوې،[3] د طالبانو چارواکو ځواب دا و چې دا ډول مجازات د مجرمینو او په لویه کچه د خلکو په وړاندې د مخنیوي لپاره یو لوی سبب وو.[4]

د شل کلنې جګړې په لړ کې چې د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر میاشتې په ۹مه نیټه چې له واک څخه د دوي د سقوط وروسته یې دوام درلود، طالبانو د خپل واک لاندې سیمو کې بدني مجازاتو او اعدامونو ته دوام ورکړ. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د ۲۰۱۰ کال د آګست له ۱۵ څخه[5] تر ۲۰۲۱ کال د آګست ۱۵ پورې د طالبانو لخوا لږ تر لږه ۱۸۲ "د عدالت موازي جوړښتونو"[6] اړوند سزاګاني مستند کړي چې په پایله کې یې ۲۱۳ تنه وژل شوي او ۶۴ نور ټپیان شوي دي. د دې ډول سزاګانو په اړه به عموماً د طالبانو یوه قاضي یا کمیسیون پریکړه کوله، چې بدني مجازات یا د اعدام جزا به د مذهبي یا هم د دودیزو تعبیرونو پر بنسټ وضع کیدله. په وضع شویو سزاګانو کې په دُرو باندې وهل او نور ورته وهل ټکول، د بدن د غړو پرې کول، په ډزو وژل، د سر پرې کول او ځړول شامل وو.

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تر واک لاندې، بدني مجازات او د مرګ سزا دواړه قانوني وو (لاندې د کورني حقوقي چوکاټ په برخه کې لا ډیر توضیحات وګورئ). د بشري حقونو میکانیزمونو د افغانستان پر اسلامي جمهوري حکومت غږ وکړ چې بدني مجازات لغوه کړي او پر اعدامونو باندې هم بندیز ولګوي.[7] د ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۲۱ کال د آګست ۱۵ پورې، د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت د راپورونو له مخې لږ تر لږه ۷۲ کسان اعدام کړي دي.[8] د شته معلوماتو پر بنسټ، ۳۱ کسان د معمولو جرمونو له کبله (د غلا او جنسي تیري په ګډون سره)؛ ۱۸ کسان د امنیت اړوند جرمونو په تړوا؛ او یو تن هم د کورنۍ جګړې په لړ کې د ترسره شوي جرمونو له کبله په اعدام محکوم شوي ول. دا چې پاتې ۲۲ کسه د کومو جرمونو له کبله اعدام شوي وو په دې اړه کافي معلومات نشته.[9] د اعدام د سزا طریقه چې دولت به کاروله په دار ځړول او په ډزو باندې ویشتل وو. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر په میاشت کې د ډله ایز اعدام په پای کې د خلکو له پراخو لاریونونو وروسته په ډزو باندې د اعدام سزا ته د پای ټکی کیښود.[10]

د افغانستان د اسلامي جمهوریت په دوره کې د قضایي یا دولتي ادارو لخوا د بدني مجازاتو د شمیر په اړه هر اړخیز معلومات نشته، خو بیا هم د قضایي بدني مجازاتو د بیلګو په اړه ځیني عام راپورونه شته. د مثال په ډول:

---

[1] تعریف: "هر هغه سزا چې فزیکي ځواک پکې کارول کیږي او د یو څه درد یا ناراحتۍ لامل کیږي، حتی که لږ هم وي." د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقونو کمیټې عمومي یادونه شمیره ۸ (۲۰۰۶): د بدني او نورو ظالمانه یا سپکاوي ډک سزاګانو څخه د ماشوم د ساتنې حق (۱۹ او ۲۸مه ماده، ۲ او ۳۷م پاراګراف) ۲ مارچ ۲۰۲۲، CRC/C/GC/8 ۱۱م پاراګراف.

[2] د افغانستان بشري وضعیت په اړه ورستی راپور د ځانګړي راپور ورکونکي ښاغلي چونګ هاین پیک لخوا د بشري حقونو د کمیسیون د پریکړې سره سم ثبت شوې ۷۵/۱۹۶۶، ۲۰ د فبروري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/59 ۴۴ – ۴۶ پاراګرافونه.

[3] د افغانستان بشري وضعیت په اړه ورستی راپور د ځانګړي راپور ورکونکي ښاغلي چونګ هاین پیک لخوا د بشري حقونو د کمیسیون د پریکړې سره سم ثبت شوې ۷۵/۱۹۶۶، ۲۰ د فبروري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/59 ۴۸م پاراګراف.

[4] د افغانستان بشري وضعیت په اړه ورستی راپور د ځانګړي راپور ورکونکي ښاغلي چونګ هاین پیک لخوا د بشري حقونو د کمیسیون د پریکړې سره سم ثبت شوې ۷۵/۱۹۶۶، ۲۰ د فبروري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/59 ۴۴ – ۴۶ پاراګرافونه.

[5] یوناما د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ په میاشت کې د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړل. د ۲۰۱۰ کال د آګست ۱۵ د دې میتودولوژۍ لاندې لومړنۍ قضیه چې د موازي عدالت جوړښت لخوا ورته جزا ورکړل شوه ثبت شوی بیلګه ده.

[6] د "موازي عدالت جوړښت" اصطلاح هغه مجازاتو ته اشاره کوي چې د غیر دولتي وسله والو ډلو لخوا (په دې حالت کې، طالبان) د ملکي خلکو په وړاندې د یو خودسرانه محکمې یا کمیسیون لخوا چې د موجوده رسمي قضایي میکانیزمونو سره موازي فعالیت کوي د پریکړې وروسته ترسره کیږي.

[7] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د نړیوالې دورېي بیاکتنې په اړه د کاري ډلې راپور: افغانستان، ۳ اپریل ۲۰۱۹، A/HRC/41/5، پایلې او/یا سپارښتنې؛ د شکنجې ضد کمیټه، د افغانستان د دویم دورېي راپور په اړه د مشاهداتو پایله، ۱۲ جون ۲۰۱۷، CAT/C/AFG/CO/2، [۲۳]-[۲۴] پاراګرافونه.

[8] د ترلاسه شوي ارقامو سرچینې: د لوی څارنوال دفتر (د ۲۰۱۲-۲۰۱۸ لپاره)؛ د بشري حقونو د عالي کمیشنر راپورونه؛ د بښنې نړیوال سازمان؛ د بشري حقونو د څار اداره؛ د مرګ د سزا په اړه د کارنیل نړیوال مرکز (https://www.deathpenaltyworldwide.org/country-search-post.cfm?country=Afghanistan#f16-2)؛ نړیوالې او ملي رسنۍ. د رسنیو د راپورونو له مخې، لړترلږه په یوه قضیه کې اعدام شوی کس ماشوم و: ABC News، "څنګه طالبانو یو ماشوم په ځانمرګي بریدګر بدل کړ"، ۲۱ جون ۲۰۱۱. دلته شتون لري: https://abcnews.go.com/Blotter/taliban-killer-zar-ajam-duped-terror-attack/story?id=13894578&singlePage=true.

[9] دا ځکه چې چارواکو ډېرې وختونه د اعدام شویو کسانو مجموعي تعداد او د هغوی لخوا د ترسره شویو جرمونو یو لیست نشروئ، پرته له دې چې اړوند جزیات شریک کړي.

[10] ارټ کوډي او ډومینیک ډې، "افغانستان: په چوکونو کې د مرګ سزا، د قانون پلټونکی: د جزا قانون او جرم پوهنه"، د اکتوبر ۲۰، ۲۰۱۵، دلته یې لوستلای شئ: https://lawexplores.com/afghanistan-death-penalty-at-the-crossroads/

- د ۲۰۱۱ کال د مې په میاشت کې، د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې، یو سړی د الکول څښلو له کبله د محکمې په دننه کې د یوه قاضي لخوا په عام محضر کې ووهل شو.[11]
- د ۲۰۱۵ کال د آګست په ۳۰ نېټه، یوه ښځه او سړی چې د زنا په تور محکوم شوي ول په عام محضر کې د ابتدایې محکمې د قاضي لخوا هر یو ۱۰۰ دُرې ووهل شو.[12]

په ۲۰۱۳ کال کې، د عدلیې وزارت یوې کاري ډلې د جزا په کود کې د تعدیلاتو وړاندیز وکړ چې د زنا د جرم لپاره د مجازاتو په توګه یې د سنګسار یا دُرو وهلو مجازات معرفي کړل.[13] دغه تعدیلات تصویب نه شول.

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه پر افغانستان د بیا واک ترلاسه کولو وروسته، د طالبانو حاکمو چارواکو بدني مجازات او د مرګ سزاګانې پلي کړې. د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۲۳مه له رسنیو سره په مرکه کې، د حاکمو چارواکو د زندانونو چارو د سمون اداري د دفتر پخوانی سرپرست ریس، ملا نورالدین ترابي،[14] اسوشیټیډ پریس ته وویل چې "د لاسونو پرې کول د امنیت لپاره خورا زیات اړین دي" ځکه چې دا عمل یو مخنیونکی اغیز لري، خو کابینه لا تر اوسه دا ارزوي چې آیا مجازات په علني توګه ترسره شي که نه.[15] د یوناما لخوا د بدني مجازاتو لومړنی بیلګه د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر په ۲۰ د کاپیسا ولایت د نجراب په ولسوالۍ کې ثبت شوې. یوه ښځه او سړی چې د ولسوالۍ د محکمې له خوا د زنا[16] په تور محکوم شوي وو، د دیني عالمانو او د سیمه ییزو چارواکو په شتون کې د یادې ولسوالۍ د محکمې د غړو له خوا په عام محضر کې ۱۰۰ دُرې ووهل شول.

د دې لومړنۍ بیلګې راهیسې چې د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر په میاشتې کې رامنځته شوې وه، حاکمو چارواکو د قضايي پریکړو وروسته یا هم په خپلسرې ډول بدني مجازاتو پلي کولو ته دوام ورکړ. د قضايي مجازاتو پلي کول د ۲۰۲۲ کال د نومبر په ۱۳ د حاکمو چارواکو د ویاند ذبیح الله مجاهد لخوا د ټویټ څخه وروسته په لوړه کچه زیات شول، چې پکې ویل شوي چې د طالبانو مشر له قاضیانو سره لیدلي او د دوی په مکلفیتونو یې ټینګار کړی ترڅو د جرمونو لپاره د شرعي شرایطو پورو کیدو وروسته د حدود او قصاص مجازات پلي کړي.[17] حدود او قصاص هغه مجازات دي چې له قرآن او احادیثو[18] څخه اخیستل شوي او کیدای شي دواړه بدني[19] او د اعدام مجازات[20] وي. د مجاهد د ټویټ وروسته د قضايي بدني مجازاتو په پلي کولو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په ۷ نېټه، د طالبانو لخوا د افغانستان د

[11] بي بي سي، "افغان قاضي د شرابو څښلو له امله یو سړی په دُرو ووهلو"، ۱ جون ۲۰۱۱. دلته شتون لري: https://www.bbc.com/news/world-south-asia-13620439.

[12] د بخښنې نړیوال سازمان، "افغانستان: د "زنا" لپاره د ۱۰۰ دُرو سخته سزا باید وڅیړل شي"، ۲ سپتمبر ۲۰۱۵. دلته شتون لري: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2015/09/afghanistan-abhorrent-punishment-of-100-lashes-for-adultery-must-be-investigated/.

[13] د بشري حقونو د څار اداره، "افغانستان: د سنګسار کولو وړاندیز رد کړئ"، ۲۵ نومبر ۲۰۱۳. دلته شتون لري: https://www.hrw.org/news/2013/11/25/afghanistan-reject-proposal-restore-stoning؛ د بخښنې نړیوال سازمان، "افغانستان: سنګسارول، په دُرو وهل، د بدن د غړو قطع کول او د طالبانو د دورې نورې سزاګانې رد کړئ"، ۲۶ نومبر ۲۰۱۳. دلته شتون لري: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2013/11/afghanistan-reject-stoning-flogging-amputation-and-other-taliban-era-punishments/.

[14] ملا نورالدین ترابي د طالبانو په لومړي حکومت کې د عدلیې وزیر او اوس د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرستیال دی. د اسوشیټیډ پریس سره د مرکې په وخت کې، هغه د حاکمې اداري د زندان د دفتر سرپرست ریس و.

[15] اسوشیټیډ پریس، "طالب چارواکي: سخته سزا، اعدامونه به بیرته راشي"، ۲۳ سپتمبر ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://apnews.com/article/religion-afghanistan-kabul-taliban-22f5107f1dbd19c8605b5b5435a9de54.

[16] زنا یوه عربي اصطلاح ده چې د شریعت له مخې له واده پرته د جنسي اړیکو درلودلو د منع کولو لپاره کارول کیږي. زنا د شرعي احکامو له مخې په حدودو کې راځي، یا د خدای د حکمونو خلاف جرم ګڼل کیږي، چې مجازات یې حتمي دي.

[17] Zabihullah (ذبيح الله م)[@Zabehulah_M33] ټویټر، ۱۳ نومبر ۲۰۲۲، د ماښام ۸:۳۷ بجې، دلته شتون لري: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1591824999870259200?s=20&t=DiJiPIQqSmH78zWj4KjBFw (پښتو) عالیقدر امیرالمؤمنین د قاضیانو په یوه غونډه کې: "د غلو، انسان تښتونکو او فتنه ګرو دوسیې په ښه ډول وڅېړئ. هغه دوسیې چې د حد او قصاص ټول شرعي شرایط یې پوره کړي وي مکلف یاست چې حد او قصاص وربانديې جاري کړئ، ځکه دا د شریعت حکم او زما امر دی او فرض ده ترڅو وربانديې عمل وکړئ."

[18] د قصاص په صورت کې، د قربانیانو کورنۍ د سزا پریکړه کوي (کله چې قرباني مړ شي) - یا په ورته ډول بدله اخیستل، د خون په بدل کې پیسې اخیستل یا مرتکب ته بخښنه کول. د حدود مجازات د ځانګړو جرمونو لپاره دي او د اسلامي قانون له مخې ټاکل شوي.

[19] د هر هغه سزا په توګه تعریف شوی چې په کې فزیکي ځواک کارول کیږي او موخه یې د یو څه درد یا ناراحتۍ لامل کیږي، که څه هم لږ وي. ۸مه شمیره عمومي تبصرې وګورئ: د بدني مجازاتو او نور ظالمانه یا سپکونکي مجازاتو څخه د ماشوم د ساتنې حق (۲۰۰۶) ۱۱م پاراګراف.

[20] یو تنبیهي اقدام چې په هغه کې یو کس د خپل جرم لپاره په مرګ محکوم کیږي، چې د مرګ د سزا په نوم هم پیژندل کیږي.

نیولو راهیسې د قاضي لخوا تصویب شوي اعدام لومړۍ بیلګه هم ثبت شوه.[21] سره له دې چې د ټویټ تمرکز د حدود او قصاص مجازاتو په اړه وو خو د راپورونو پر اساس ګڼ شمیر پلي شوي بدني مجازات تعزیري ول.[22]

[21] د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، په افغانستان کې د اعدام په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر د ویاند جیریمي لارنس نظریه، ۲۰۲۲ کال د ډسمبر ۷مه، دلته شتون لري:
https://www.ohchr.org/en/press-releases/2022/12/comment-un-human-rights-office-spokesperson-jeremy-laurence-afghanistan#:~:text=The%20death%20penalty%20is%20incompatible,death%20penalty%20in%20its%20entirety؛
UNAMA News [@UNAMAnews]، ټویټر، ۷ دسمبر ۲۰۲۲، د ماښام ۹:۳۱ بجې، دلته شتون لري:
https://twitter.com/UNAMAnews/status/1600536086496919553?s=20&t=BBcTWv4DfbHb2lMpw0q49A.

[22] په اسلامي قانون کې، تعزیر هغو مجازاتو ته اشاره کوي چې- د حدود او قصاص په څیر - په قرآن او سنت کې نه دي تعریف شوي او د قاضي د اختیاري واک لاندې اجرا کیږي.

# قانوني چوکاټ



## ۱.۱ نړیوال قانوني چوکاټ

افغانستان د یو دولت په توګه د بشری حقونو په نړیوالو سندونو کې راغلو هغو مکلفیتونو باندې پابند دی چې غړیتوب یې لري[23].

### بدني مجازات

بدني مجازات داسې تعریف شوي دي: "هر هغه جزا چې فزیکي ځواک پکې کارول کیږي او د یو څه درد یا ناراحتۍ لامل کیږي، حتی که لږ هم وي[24]". د بشري حقونو کمیټې د جرم لپاره د جزا په توګه یا د تعلیمي یا انظباطي اقدام په توګه ډیر عذاب ورکول"[25] هم په بدني مجازاتو کې د شاملولو لپاره په پام کې نیولي دي. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپک چلند یا مجازاتو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي یادونه کړې چې په بدني مجازاتو کې معمولا د یو کس په وړاندې په قصدي توګه د ځواک کارول شامل دي، چې پکې قرباني ته سپکاوی او توهین کیږي.[26] د ملګرو ملتونو د بشری حقونو کمیسیون[27] (پخوا د بشری حقونو شورا)، د بشری حقونو د کارپوهانو کمېټې[28] او ځانګړو طرزالعملونو[29] ټولو ویلي دي چې بدني مجازات د شکنجې یا ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوی ډک چلند یا مجازاتو یوه بڼه تشکیلوي چې د نړیوالو بشری حقونو معیارونو سره په ټکر کې ده، او د دغو مجازاتو د لغوه کولو غوښتنه یې کړې.[30]

[23] د شکنجې او نورو ظالمانه غیر انساني یا سپکاوي چلند یا مجازاتو پروړاندې کنوانسیون (چې د ۱۹۸۷ کال د اپریل په ۱له تصویب شوی)، د شکنجې پروړاندې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول (چې د افغانستان لخوا د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۱۷مه الحاق شوی)، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (چې د افغانستان لخوا د ۱۹۸۳ کال د جنوري په ۲۴مه الحاق شوی) ، د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (چې د ۲۰۰۳ کال د مارچ په ۵مه تصویب شوی)، د توکمیز تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (چې د افغانستان لخوا د ۱۹۸۳ کال د جولای په ۶مه الحاق شوی)، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق (چې د افغانستان لخوا د ۱۹۸۳ کال د جنوري په ۲۴مه الحاق شوی)، د ماشوم د حقونو کنوانسیون (چې د ۱۹۹۴ کال د مارچ په ۲۸مه تصویب شوی)، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په اړه د ماشومانو د حقونو کنوانسیون ته اختیاري پروتوکول (چې د افغانستان لخوا د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر پر ۲۴مه الحاق شوی)، د ماشومانو د پلور، د ماشومانو فحشا او د ماشومانو فورنوګرافي په اړه د ماشومانو د حقونو کنواسیون ته اختیاري پروتوکول (چې د افغانستان لخوا د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر په ۱۹مه الحاق شوی)، د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون (چې د افغانستان لخوا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۸مه الحاق شوی).

[24] د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمېټه، ۸مه شمیره عمومي نظریه: د فزیکي مجازاتو او نورو ظالمانه یا سپکاوي ډک چلند څخه د ماشوم د ساتنې حق (۲۰۰۶)، ۱۱م پاراګراف.

[25] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، CCPR ۲۰مه عمومي نظریه: ۷مه ماده (د شکنجې یا نور ظالمانه، غیر انساني یا د سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کول)، ۱۰ مارچ ۱۹۹۲، پاراګراف [۵] .

[26] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، منفرېډ نوواک، ۹ فبروري ۲۰۱۰، A/HRC/13/39، پاراګراف [۶۳] .

[27] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو، شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه کمیسیون، .Res. 1998/38, ESCOR Supp. (No. 3) at 134, E/CN.4/1998/38 (1998)

[28] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، CCPR ۲مه شمیره عمومي نظریه: ۷مه ماده (د شکنجې یا نور ظالمانه، غیر انساني یا د سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کول)، ۱۰ مارچ ۱۹۹۲، پاراګراف [۵]; جورج اوسبورن په جمیکا کې، CCPR/C/68/D/759/1997، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه (HRC)، ۱۳ اپریل ۲۰۰۰، پاراګراف [۹.۱]، وګورئ: د عمومي اسامبلې رسمي اسناد، اووه پنځوسمه غونډه، ۴۰ شمیره ضمیمه (A/57/40)، دوهم ټوک، ۹مه ضمیمه، بخش FF، د مکتوب شمیره 2000/928، بودلال سوکلال په ټرینیډاډ او ټوباګو کې؛ دوهم ټوک، نهمه ضمیمه، Q بخش، د مکتوب شمیره 1998/792، هیګینسن په جمیکا کې؛ د عمومي اسامبلې رسمي اسناد، نهه پنځوسمه غونډه، ۴۰مه ضمیمه (A/59/40)، دوهم ټوک، نهمه ضمیمه، د B بخش، د مکتوب شمیره 1998/793، پریس په جمیکا کې.

[29] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، نګیل ایس. روډلي، راپور چې د بشري حقونو د پریکړه لیک 37/1995 (B)، ۱۰ جنوري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/7، پاراګراف [۸] کمیسیون په تعقیب وړاندې شو; د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، مانفریډ نواک، راپور چې د عمومي اسامبلې د 182/59 پریکړه لیک او د بشري حقونو کمیسیون 39/2005، A/60/316، پاراګراف [۲۶]- [۲۸] وروسته وړاندې شو.

[30] د شکنجې ضد کمیټې د پاکستان په لومړني راپور باندې مشاهدات، ۱ جون ۲۰۱۷، CAT/C/PAK/CO/1، پاراګراف [38]- [39]; د شکنجې ضد کمیټه، د قطر د دریم دورې راپور په اړه مشاهدات، ۴ جون ۲۰۱۸، CAT/C/QAT/CO/3، پارا. [31]- [32]; د شکنجې ضد کمیټه، د متحده عربي اماراتو د لومړني راپور په اړه مشاهدات، ۲۲ اګست ۲۰۲۲، CAT/C/ARE/CO/13، پاراګراف [9]- [10].

د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوی ډک چلند یا مجازات منع کول د نړیوال قانون یو اجباري نورم (jus cogens) یا بنسټیز اصول ګڼل کیږي. د دې ډول کړنو د منع کولو مکلفیت ته سپکاوی د منلو وړ ندی. پدې معنی چې د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو څخه کار اخیستل، او د منعې مکلفیت نه مراعتول حتی په بیړني حالاتو کې هیڅ توجیه شتون نلري.[31]

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په وړاندې کنوانسیون په ښکاره ډول د شکنجې له تعریف څخه "هغه درد یا کړاو چې یوازې د قانوني جزاګانو په نتیجه کې منځته راځي" باسي.[32] د بشري حقونو ځانګړي طرزالعملونو دا استدلال نه دی منلی چې ګڼې بدني مجازات قانوني بڼه لري او دا چې بدني مجازات د شکنجې د منعې څخه بهر دي،[33] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، منفریډ نوواک، په ۲۰۰۵ کال کې ویلي چې: "دولتونه نشي کولی د کورني قوانینو د احکامو پر بنسټ د نړیوالو قوانینو لاندې د بشري حقونو د مکلفیتونو، د بدني مجازاتو د ممانعت په ګډون، سرغړونه توجیه کړي."[34]

د بشري حقونو خپلواکو کارپوهانو او ځانګړو طرزالعملونو د بدني مجازاتو د پلي کولو لپاره د مذهبي قانون پر بنسټ توجیه هم رد کړې ده. په ۲۰۰۶ کال کې، د ماشومانو د حقونو کمیټې وویل چې د یو مذهب د څرګندولو آزادي ممکن د نورو د بنسټیزو حقونو او آزادیو د ساتنې لپاره محدوده شي. دغې کمیټې وموندله چې بدني مجازات "چې د ځینو مذهبي تعبیرونو له مخې تاکل شوي په ښکاره ډول د کنوانسیون او د نورو بشري حقونو نړیوالو معیارونو څخه سرغړونه ده چې د بشري حقونو کمیټې او د شکنجې ضد کمیټې لخوا هم په ګوته شوي، او باید منع شي[35]. په ۱۹۹۷ کال کې د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي ډک چلند او مجازاتو په وړاندې ځانګړي راپور ورکوونکي وویل چې "هغه هیوادونه چې مذهبي قانون پلي کوي باید دا کار په داسې طریقه وکړي چې په بدني مجازاتو کې د هغه کړنو څخه چې درد رامنځته کوي مخنیوی شوی وي".[36]

د بشري حقونو کمیټې یادونه کړې چې د ښځو د جامو په اړه مقررات چې د یوه هیواد لخوا وضع شوي ممکن د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق لخوا تضمین شوي حقونه، د ۷مې مادې په ګډون، تر پښو لاندې کړي، کوم چې د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازات منع کوي، "که چیرې د دا ډول مقرراتو د پلي کولو لپاره بدني مجازات وضع کیږي."[37] په ۲۰۱۸ کال کې، د ښځو په وړاندې د تبعیض د لمنځه وړلو کمیټې سپارښتنه وکړه چې سعودي عربستان دې د ښځو لپاره د جامو د انتخاب حق تضمین کړي، "د مذهبي پولیسو او نارینه ساتونکو لخوا د تاوتریخوالي، ګواښونو یا جبر څخه د ښځو د ساتنې لپاره د اغیزمنو اقداماتو ترسره کول هم شامل ول."[38]

## د مرګ سزا

پداسې حال کې چې د مرګ سزا د بشري حقونو د نړیوال قانون له خوا نده منع شوې، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د دغو مجازاتو تطبیق د هغه غړو دولتونو لخوا په جدي توګه محدودوي چې دغه مجازات یې نه دي لغوه کړي.

د مرګ سزا یوازې "تر ټولو لویو جرمونو" لپاره تطبیق کیدی شي، چې د بشري حقونو کمیټې لخوا د خورا جدي جرمونو په توګه پیژندل شوي دي، چې عمدي قتل پکې شامل دی[39]. هغه جرمونو لکه د قتل کولو هڅه، اداري فساد او نور اقتصادي او سیاسي جرمونه، نشه اي توکي او جنسي جرمونه، چې په مستقیمه او عمدي توګه د قتل سبب نه ګرځي هیڅکله د مرګ سزا د تطبیق لپاره اساس جوړیدای نشي.[40]

---

[31] د شکنجې ضد کنوانسیون، ماده ۲ (۲)؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ماده ۴ (۲).

[32] د شکنجې ضد کنوانسیون، دوهمه ماده، دوهم بند؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، څلورمه ماده، دوهم بند.

[33] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، نګیل ایس روډلي، راپور د بشري حقونو د پریکړه لیک 37/1995 (B)، ۱۰ جنوري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/ 7، پاراګراف [۸]; د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، مانفریډ نواک، راپور د عمومي اسامبلې د 182/59 پریکړه لیک او د بشري حقونو کمیسیون 39/2005، A/60/316، پاراګراف [۲۶]- [۲۸] په تعقیب وړاندي شو.

[34] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، مانفریډ نواک، راپور د عمومي اسامبلې د 182/59 پریکړه لیک او د بشري حقونو کمیسیون 39/2005، A/60/316، پاراګراف [۲۶]- [۲۸] په تعقیب وړاندي شو.

[35] د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۸ (۲۰۰۶): د بدني مجازاتو او نورو ظالمانه یا سپکاوي ډک مجازاتو څخه د ماشوم د ساتنې حق (مادې ۱۹؛ ۲۸، پراګراف ۲؛ او ۳۷، د نورو ترځنګ)، ۲ مارچ ۲۰۰۷، CRC/C/GC/8، پاراګراف [۲۹] .

[36] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، نګیل ایس روډلي، راپور د بشري حقونو د پریکړه لیک 37/1995 (B)، ۱۰ جنوري ۱۹۹۷، E/CN.4/1997/ 7، پاراګراف [۱۰] په تعقیب وړاندي شو.

[37] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، د CCPR عمومي نظریه شمېره ۲۸: ۳مه ماده (د نارینه او ښځو تر منځ د حقونو مساوات)، ۲۹ مارچ ۲۰۰۰، CCPR/C/21/Rev.1/Add.10، پاراګراف [۱۳].

[38] CEDAW/C/SAU/CO/3-4

[39] د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶، ماده ۶ (د ژوند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36، پاراګراف [۳۵].

[40] د بیړني او غیر عادلانه اعدامونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکونکي ویلي چې د نړیوال قانون له مخې د مرګ سزا یوازې د "پلان شوي او قصدي کړنو په نتیجه کې چې مرګوني پایلې ولري" لپاره اجازه لري. "د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کارپوهانو له سنګاپور څخه وغوښتل چې د مالیزیا تبعه اعدام نه کړي"، جنیوا، ۱۸ می ۲۰۱۶، لاندي راپور ولولئ:

د مرګ اجباري سزا د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې منع ده. د بشري حقونو کمیټې غوښتنته کړې چې په ټولو هغه قضیو کې چې د اعدام جزا په کې شامله وي، د سزا ورکونکې محکمه باید د جرم او د مجرم انفرادي شرایط په پام کې ونیسي. د مرګ اجباري سزا چې محکمو ته د پلې کولو په برخه کې هیڅ اختیار نه پرېږدي خپلسري ګڼل کېږي[41].

نړیوال معیارونه دا په ډاګه کوي چې ټول تورن کسان باید په عادلانه ډول محاکمه شي. د عادلانه محاکمې تضمینونو ته درناوی په ځانګړې توګه په هغه قضیو کې اړین دي چې د مرګ د سزا د تطبیق لامل کېږي. د بشري حقونو کمیټې ویلي دي چې هغه حالاتو کې چې د تورنو کسانو عادلانه محاکمې حقونه نه وي ساتل شوي د مرګ سزا په خپل سر د ژوند څخه محرومول دي.[42] د جبري اعترافونو اخیستل؛ د اغېزمن قانوني استازیتوب نشتوالی؛ په عمومي توګه په جزایي پروسه کې د عدالت نشتوالی او د محکمې د خپلواکۍ او بې طرفۍ نشتوالی د عادلانه محاکمې د تضمینونو څخه سرغړونه شمېرل کېږي.

هر هغه څوک چې په اعدام محکوم شوی وي حق لري چې د بخښنې یا د خپلې سزا د کمولو غوښتنه وکړي.[43] دولتونه باید ډاډ ترلاسه کړي چې د مرګ د سزا معاف کول یا بدلول، په مناسبو شرایطو کې، د اجرا وړ دی.[44]

د بشري حقونو نړیوال قانون د هغو جرمونو لپاره د اعدام سزا منع کوي چې مجرم د جرم په وخت کې د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولري[45] او یا مجرم امیندواره مېرمن وي.[46] د بشري حقونو کمیټې دا هم یادونه کړې چې د مرګ سزا باید پر هغو کسانو باندې جاري نشي چې: جدي رواني یا ذهني معلولیتونو یې د ځان څخه په اغېزمن ډول د دفاع کولو ورتیا اخیستې وي؛ چې محدود اخلاقي مجرمیت ولري؛ څوک چې د خپلې جزا په دلایلو د پوهیدو کمه ورتیا ولري؛ د چا اعدام چې په استثنایي ډول ظالمانه وي یا دا چې دوی او د دوی کورنیو لپاره په استثنایي ډول سختې پایلې رامینځته کړي (لکه د لوړ عمر لرونکي اشخاص او د تنکي ځوانانو یا متکي ماشومانو والدین) او یا په تیرو وختونو کې د بشري حقونو جدي سرغړونو سره مخ شوي وي[47].

په پایله کې، د مرګ سزا باید په داسې طریقه ترسره شي چې د تر ممکنه حده پورې د لږ فزیکي او رواني درد لامل شي.[48] د اعدام طریقې چې د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډکو مجازاتو د منع کولو څخه په سرغړونه کې وي په فطرت کې په خپل سري توګه د اعدام کولو لامل کېږي، او له همدې امله د ژوند څخه په خپل سري توګه محرومیت رامینځته کوي (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د شپږمې مادې له مخې منع شوي.) سنګسار او عام اعدامونه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ۷مه ماده کې د اعدام میتودونو سره په ټکر کې دي.[49]

---

.https://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=19988&LangID=E

[41] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمېره ۳۶: شپږمه ماده (د ژوند حق)، ۲۰۱۹، پاراګراف [۳۷].

[42] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمېره ۳۶: شپږمه ماده (د ژوند حق)، ۲۰۱۹، پاراګراف [۴۱]; د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمېره ۳۲: ۱۴مه ماده (د محکمو او محاکمو په وړاندې د مساوات حق او عادلانه محاکمه)، ۲۰۰۷، پاراګراف ۵۹. د عادلانه محاکمې د معیارونو په اړه، دا هم وګورئ: د قضایي خپلواکۍ بنسټیز اصول، چې د ملګرو ملتونو د اووم کانګرس لخوا د جرمونو د مخنیوي او د مجرمینو سره د چلند په اړه تصویب شوي د اګست له ۲۶ څخه تر ۶ سپتمبر ۱۹۸۵ پورې په میلان کې ترسره شوي او د عمومي اسمبلۍ لخوا، پریکړه لیکونه ۳۲/۴۰ د ۲۹ نومبر ۱۹۸۵ او ۱۴۶/۴۰ د ۱۳ دسمبر ۱۹۸۵ تایید شوي؛ د وکیلانو د نقش په اړه اساسي اصول، د جرمونو د مخنیوي او د مجرمینو سره د چلند په اړه د ملګرو ملتونو د اتم کانګرس لخوا تصویب شوي، هاوانا، کیوبا، د اګست له ۲۷ څخه تر ۷ سپتمبر ۱۹۹۰؛ د څارنوالانو د نقش په اړه لارښوونې چې د جرمونو د مخنیوي او د مجرمینو سره د چلند په اړه د ملګرو ملتونو د اتم کانګرس لخوا تصویب شوي، هاوانا، کیوبا، د اګست له ۲۷ څخه تر ۷ سپتمبر ۱۹۹۰.

[43] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶مه ماده، (۴) بند.

[44] د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶، ماده ۶ (د ژوند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36، پاراګراف [۴۷] .

[45] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶مه ماده، (۵م) بند; د ماشوم د حقونو کنوانسیون ۳۷مه ماده؛ د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶، ۶مه ماده (د ژوند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CCPR/C/GC/36، پاراګرافونه [۴۸] – [۴۹].

[46] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶مه ماده (۵م) بند.

[47] د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶، ۶مه ماده (د ژوند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36، پاراګراف [۴۹].

[48] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۲۰: ۷ ماده (د شکنجې منع کول، یا نور ظالمانه، غیر انساني یا د سپکاوی ډک مجازات)، ۱۹۹۲، ۶م پاراګراف.

[49] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمېره ۳۶: شپږمه ماده (د ژوند حق)، ۲۰۱۹، پاراګراف ۴۰. د عامه اعدامونو په اړه، د ۵۹/۲۰۰۵ په پریکړه لیک کې، د بشري حقونو کمیسیون له ټولو هغو دولتونو څخه چې لاهم د اعدام سزا تطبیق کوي وغوښتل چې "ډاډ ترلاسه کړي، چیرې چې د اعدام سزا لا هم تطبیق کیږي، چې د اعدام سزا په داسې ډول سره اجرا کړل شي چې تر لږ تر لږه کړاوونه رامنځته کړي، او باید په عام ځاي کې او یا کوم بل سپکونکي ډول ترسره نشي، (...)". د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون، د بشري حقونو پریکړه ۵۹/۲۰۰۵: د مرګ د سزا موضوع، ۲۰ اپریل ۲۰۰۵، E/CN.4/RES/2005/59، پاراګراف ۷ (i). دا بندیز د ملګرو ملتونو د سرمنشي لخوا بیا تایید شو، د عمومي منشي راپور وګورئ، د مرګ د سزا موضوع، ۱۴ سپتمبر ۲۰۱۸، A/HRC/39/19، پاراګراف ۳۸.

## ۱.۲ کورنی قانوني چوکاټ

حاکمو چارواکو په ښکاره توګه اساسي قانون تعليق کړی[50] او د افغانستان د اسلامي جمهوريت له خوا تصويب شوي قوانينو بياکتنه يې پيل کړې ترڅو د شريعت او افغاني عنعناتو سره يې مطابقت وارزوي.[51] د ۲۰۲۳ کال تر اپريل پورې دغه پروسه او له همدې امله، د افغانستان اسلامي جمهوريت لخوا د تصويب شوي قوانينو وضعيت هم نامعلومه پاته دی. په هرحال، حاکمو چارواکو په ګڼ شمير مواردو کې ويلي چې په افغانستان کې شريعت د تطبيق وړ قانوني چوکاټ دی.[52]

که څه هم، لکه څنګه چې پورته وويل شول، حاکمو چارواکو د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوريت له خوا نور قوانين تعليق اعلان کړل، دا برخه د افغانستان د پخوانيو قوانينو له مخې د بدني مجازاتو او د اعدام د سزا په اړه وضعيت روښانه کوي. د اساسي قانون او جزا کود پر بنسټ بدني مجازات او د مرګ سزا قانوني ول.

د جزا کود په ۳مه ماده کې راغلي چې د دغه قانون موخه د تعزيري جرمونو او جزا په اړه د اصولو، قوانينو او احکامو تنظيمول دي او د حدود او قصاص نقض کونکي به د اسلامي شريعت د حنفي فقهې له احکامو سره سم مجازات کېږي.[53] د حدود او قصاص مجازات، (لکه څرنګه چې يې مخکې يادونه وشوه، دواړه بدني او د اعدام جزاګانې کيدی شي) له همدې امله د جزا د کود له مخې اجازه ورکړل شوې وه، مګر هلته تعريف يا مدون شوې نده. د افغانستان حکومت په ۲۰۱۰ کال کې تائيد کړه چې د زنا لپاره د بدني مجازاتو اجرات شوني دي، لکه څنګه چې د جزا کود په ۴۲۷ مادې کې راغلي چې د زنا يا د واده څخه بهر د جنسي اړيکو ټينګولو مجازات به د اوږدمهاله بندی کيدو لامل کيږي...خو په ۴۲۶مه ماده کې بيا راغلي چې زنا ته يواځې هغه مهال د ۴۲۷مې مادې پر اساس مجازات ټاکل کيدی شي چې د حدود پر اساس ورته د مجازات ټاکل ناشوني وي. حدود، چې د جزا په کود کې ندي تعريف شوی، د يوې بلې قانونې سرچينې (شرعی قانون) پر اساس زنا ته تر ټولو سخت مجازات وضع کوي (چې په دُرو وهل او تيږو باندې ويشتل پکې شامل دي).[54]

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون او د جزا کود دواړو د اعدام د مجازاتو وضع کول مجاز ګڼلي.[55] د زنا په اړه چې په پورتني پاراګراف کې هم ورته کتنه شوې وه، د جزا قانون وايي چې د زنا لپاره تعزير يواځې هغه مهال د پلي کولو وړ دی چې د قصاص د پلی کولو لپاره د پام وړ شرايط چمتو نوي.[56]

د جزا کود ۱۷۰ ماده هغه جرمونه ليست کړي چې د مرګ سزا ورباندې بايد وضع شي "مګر دا چې په قانون کې بل ډول تصريح شوي وي".[57] د دغو جرمونو ليست په دې ډول دی: نسل وژنه، د بشريت ضد جرم، جنګي جرمونه، د دولت پر خلاف تجاوز، ترور او چاودنه، اختطاف او برمته کول يا قطاع الطريقي جرمنه چې د هغو ارتکاب د شخص يا اشخاصو د مړينې سبب شي؛ عمدي قتل په هغو مواردو کې چې د جزا په کود کې يې وړاندوينه شوې ده؛ هغه جرمونه چې په پايله کې يې د افغانستان ځمکه ټوله يا يوه برخه يې د بهرني دولت تر حاکميت لاندې ورکول شي يا د هيواد ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا يا خپلواکۍ ته زيان ورسيږي؛ پر ښځو باندې ډله ييز جنسي تيری؛ پر نارينه باندې ډله ييز جنسي تيري چې د قرباني د مړينې لامل شي.[58]

---

[50] د ليکلو په وخت کې، د موضوع په اړه وروستي عامه څرګندوني د حاکمو چارواکو د عدليې وزارت معين لخوا په يوه خبري کنفرانس کې وشوې، هغه وويل چې افغانستان اساسي قانون ته اړتيا نلري او حنفي قانون کولی شي د ستونزو د حل لپاره د چوکاټ په توګه وکارول شي.– د قرآن، د محمد د سنتو او فقهې په ګډون. طلوع نيوز، "چارواکي: افغانستان اساسي قانون ته اړتيا نه لري"، ۴ سپتمبر ۲۰۲۲. دلته شتون لري: https://tolonews.com/afghanistan-179697.

[51] د حاکمو چارواکو د عدليې وزارت، "د عدليې وزير د قانون د بياکتنې پروسې په لاره اچولو باندې ټينګار وکړ"، ۱۰ اپريل ۲۰۲۲. دلته شتون لري: https://moj.gov.af/en/minister-justice-accentuated-upon-expedition-law-revision-process.

[52] د مثال په توګه: روېټرز، "ځانګړی خبر: ممکن يوه شورا پر افغانستان حکومت وکړي، طالبان غواړي د سرتيرو، پيلوټانو سره اړيکه ونيسي"، ۱۹ اګست ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/exclusive-council-may-rule-afghanistan-taliban-reach-out-soldiers-pilots-senior-2021-08-18/؛ ۲۳ سپتمبر ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://apnews.com/article/religion-afghanistan-kabul-taliban-22f5107f1dbd19c8605b5b5435a9de54؛ طلوع نيوز، "چارواکي: افغانستان اساسي قانون ته اړتيا نه لري"، ۴ سپتمبر ۲۰۲۲. دلته شتون لري: https://tolonews.com/afghanistan-179697؛ اسوشيټيډ پريس، "طالب چارواکي: سخته سزا، اعدامونه به بيرته راشي"؛ AP، "افغان طالبان وايي ډله به سخت اسلامي قانون ته پابند پاتي شي"، ۱۷ نومبر ۲۰۲۲. دلته شتون لري: https://apnews.com/article/afghanistan-business-taliban-921f029801814736709d0445336a53cf.

[53] د جزا کود ۲۰۱۷، ۳مه ماده.

[54] د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کميټه، د کنوانسيون د ۴۴مې مادې له مخې د غړو دولتونو لخوا وړاندې شوي راپورونو ته په کتو: په ۱۹۹۶ کې د غړو دولتونو لومړنی راپور: افغانستان، ۱۳ جون ۲۰۱۰، CRC/C/AFG/1.

[55] د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴، ۲۳مه ماده.

[56] د جزا کود ۲۰۱۷، ۵۴۶مه ماده.

[57] د جزا کود ۲۰۱۷، ۱۷۰مه ماده.

[58] د جزا کود ۲۰۱۷، ۱۷۰مه ماده.

د پورته لست شویو ځینو جرمونو لپاره د اعدام جزا وضع کول، لکه ډله ایز جنسي تیري او د افغانستان حاکمیت او بشپړتیا ته زیان رسول د نړیوالو معیارونو سره سمون نه لري چې "تر ټولو جدي جرمونو" لپاره د اعدام جزا محدودوي، تر ټولو سخت جرمونو کې عمدي قتل شامليږي.[59]

د ماشومانو په اړه، د جزا په کود کې په ښکاره ډول راغلي چې ماشومان[60] یا هغه کسانو ته چې عمرونه یې د ۲۰[61] کلونو څخه کم وي د مرګ سزا نشي ورکول کیدی. دا احکام په بشپړه توګه د نړیوالو معیارونو سره سمون نه لري، کوم چې د جرم په وخت کې د ۱۸ کلونو څخه کم عمره کسانو لخوا د ترسره شوي جرمونو لپاره د مرګ سزا منع کوي.

د جزا کود په واضح ډول د محکمو لخوا د جرم لپاره د تطبیق وړ مجازاتو په ټاکلو کې د شرایطو د کمولو په اړه د غور لپاره چمتو شوی،[62] له همدې امله د اجباري اعدام جزا پکې شامله نده (چې د کمولو شرایطو په نشتوالي کې د مرګ د جزا غوښتنه پکې شامله وي).

که څه هم په اساسي قانون کې راغلي چې ولسمشر د مجازاتو د کمولو او بخښلو واک لري،[63] خو د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قوانینو له مخې اشخاصو د بخښنې یا د جزا کمولو د غوښتلو ځانګړی حق نه درلود. سربېره پردې د ځینو جرمونو لپاره په هر حالت کې د بخښنې اجازه نه وه.[64] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق غوښتنه کوي چې هر څوک چې په اعدام محکوم شوی وی حق لري چې د بخښنې یا د جزا د کمولو غوښتنه وکړي او دا چې معافیت او د جزا کمول په ټولو قضیو کې شوني وي (د بیلګې په توګه د ځانګړو جرمونو لپاره چې د اعدام سزا ورکړل شوې وي د بخښنې یا جزا کمولو د غوښتلو په برخې کې باید هیڅ محدودیت نه وي).[65]

## ۱.۳ عدالت ته لاسرسی

په اوسني حقوقي نظام کې عدالت ته لاسرسی د ټولو لپاره یوه ځانګړې اندېښنه ده. کله چې د عدلیې وازت ومنله چې مدافع وکیلان کولای شي خپلې دندو ته ادامه ورکړي او مدافع وکیلانو ته یې جوازونه توزیع کړل، مګر ښځینه مدافع وکیلان یې لدې پروسې وویستل او هغوی یې په عدلیې برخه کې د ګډون څخه منع کړل. مدافع وکیلان توقیف ځایونو ته هم د لاسرسي په وړاندي ستونزې لري او وایي چې دوی د محاکمې په جریان کې د قاضیانو لخوا له پامه غورځول کیږي.

البته ځینی ښځینه مدافع وکیلاني وشو کولای چې یوازې د ظرفیتونو دلوړولو په برخه کې ځیني مشورې ورکړې پرته لدې چې محکمو کې حاضرې شي[66]، ډېر یې د حاکم نظام لخوا د محدودیتونو د وضع کیدوله امله په زوره دندي پریښودلو ته اړ ویستل شول او ځینو بیا دندي د خپل امنیت له امله پریښودې. د طالبانو له راتګ وروسته ښځینه قاضیانی هم له خپلو دندو څخه منع شوې.

---

[59] د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶، ماده 6 (د ژوند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، CPR/C/GC/36، پاراګراف [۳۵] .

[60] د جزا کود ۲۰۱۷، ۹۹مه ماده.

[61] د جزا کود ۲۰۱۷، ۱۱۴مه ماده.

[62] د جزا کود ۲۰۱۷، ۹۰، ۲۰۸، ۲۰۹، ۲۱۱ او ۲۱۳ مادې.

[63] د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴، ۱۸.۶۴ ماده.

[64] د جزايي اجرااتو کود ۲۰۱۳، ۳۵۰مه ماده.

[65] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶مه ماده (۴) بند.

[66] د نړیوال حقوقی مرستو کنسورشیوم ”عدالت مهم دی: د طالبانو له راتګ وروسته د افغانستان د وضعیت په اړه راپور“ جنوری ۲۰۲۳، ۲۴م مخ: دلته شتون لري:
https://ilacnet.org/new-ilac-report-surveys-justice-sector-under-taliban-rule-2/

# بدني مجازات



## ۲.۱ د ۱۵ اګست ۲۰۲۱م څخه وروسته مستند شوي بدني مجازات

یوناما د ۱۵ اګست ۲۰۲۱م څخه وروسته د حاکمو چارواکو لخوا تطبیق شوي بدني مجازات مستند کړي[67]، په شمول د دُرو وهل، سنګسار، د وهلو نور ډولونه، په زوره د خلکو به ېښو اوبو کې درول او په زوره د سر ښریل (پاکول).

بدني مجازات د حاکمو مقاماتو لخوا په درې عمومي برخو ویشل کېږي:

۱. **قضايي بدني مجازات:** یاد مجازات د محکمې د حکم په اساس تطبیق شوي.

۲. **غیر قضايي بدني مجازات/ د غیر قضايي ارګانونو لخوا تطبیق شوي بدني مجازات:** هغه ډول بدني مجازات دي چې د قضا د حکم په اساس ندي ترسره شوي بلکه د بل چارواکي لخوا رسمي امر شوی لکه والي.

۳. **اضطراري بدني مجازات:** دا ډول بدني جزا هم د یو غیر قضايي ارګان لخوا پرته د کوم رسمی امره تطبیق شوی لکه د پولیسو لخوا د مظنون وهل.

## ۲.۲ قضايي بدني مجازات

د محکمی د حکم په اساس مستند شوي بدني مجازات یوازې په دُرو وهل دي.

*د نومبر ۱۳ مې څخه دمخه قاضیانو ته د طالبانو د مشر د څرګندونو په اړه د حاکمو چارواکو د ویاند لخوا ټویټ*[68]

د ۱۵ اګست د ۲۰۲۱م او ۱۲ نومبر ۲۰۲۲م ترمنځ، لږتر لږه یوناما د بدني جزاګانو ۱۸ پیښی مستند کړې چې د ولایتی، ولسوالی او مرافعې محاکمو لخوا تطبیق شوی. پدی موده کې غور ولایت د ټولو څخه زیات بدني مجازات درلودل چې تعداد یې ۶ ته رسیږي.

په ۱۸ مستند شوو پیښو کې ۳۳ نارینه او ۲۲ ښځینه مجازا ت شوی، چې دوه يې ماشومان (یوه نجلی او یو هلک) وو. د نارینو او ښځو دواړو اړوند ډیری مجازات د زنا، غیر اخلاقی اړیکې او د فرار ازمنزل په وړاندی تطبیق شوی، چې ټولی ښځې او نجونی د همدی جرمونو په وړاندی مجازات شوی. که څه هم په اوسنی نظام کې د دی جرمونو ماهیت معلوم ندی، د افغانستان اسلامی جمهویت په چوکاټ کې هم کله چې ښځې او نجونی پرته د محرم یا د اجازی څخه د کورنه د باندی د نامعلوم ځای په لور وتلی د کور څخه دتیښتی او زنا په هڅه باندی نیول کیدلی.[69]

په عمومی توګه د دُرو یا لښتو شمیر د ۳۰ څخه تر ۳۹ پوری د هر محکوم لپاره وه، مګر ځینو پیښو کې د ۸۰ څخه تر ۱۰۰ پوری هم دری یا لښتی وهل شوی.

*د نومبر د ۱۳ مې څخه وروسته قاضیانو ته د طالبانو د مشر د څرګندونو په اړه د حاکمو چارواکو د ویاند لخوا ټویټ*

د ۱۳ د نومبر څخه وروسته د قضايي بدني مجازاتو په تعداد او تواتر کې ډیرښت رامنځته شو. د ۱۳ د نومبر ۲۰۲۲ او ۳۰ اپریل ۲۰۲۳م پوری، یوناما لږ تر لږه ۴۳ قضايي بدني مجازات مستند کړي.

---

[67] د یوناما د بشري حقونو څانګی راپور، بشري حقونه په افغانستان کې، ۱۵ اګست ۲۰۲۱-۱۵ جون ۲۰۲۲، ۱۸م مخ

[68] Zabihullah (..ذبـیح الله م ..) [@Zabehulah_M33] ټویټر, ۱۳ نومبر ۲۰۲۲، د ماښام ۸:۳۷ بجې، دلته شتون لري: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1591824999870259200?s=20&t=DiJiPIQqSmH78zWj4KjBFw (پښتو).

[69] یوناما/او اچ سی اچ آر، د نجونو او ښځو لپاره د تاوتریخوالي په وړاندي د عدالت په لټه کې، دسمبر ۲۰۲۰، دلته شتون لري: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

چې په ۴۳ پېښو کې ۵۸ ښځینه او۲۷۴ نارینه  او دوه نارینه ماشومان د مختلفو جرمونو لکه زنا، فرار از منزل، غلاء، لواطت، د شرابو څښل، تزویر او مخدره توکو د قاچاق لپاره مجازات شوی. د تیر په څیر، ډیری مجازات د زنا، غیر اخلاقي اړیکو او د فرار از منزل په برخو کې تطبیق شوي.

په عمومي توګه د دُرو شمیر د ۳۰ څخه تر ۳۹ پوري د هر محکوم لپاره وو، مګر ځینو پیښو کې تر ۱۰۰ دُرو پوري هم وهل شوي.

یاده موده کې د ځینو پیښو په اړه مجازات حاکمو چارواکو په ټولنیزو رسنیو کې اعلان کړي (لکه د ستري محکمې، ویاند ذبیح الله مجاهد او د کندهار والي ویاند د ټویټر اکاونټونو له لاري)

د حاکمو چارواکو د ویاند د ټویټ څخه د محه قضایي بدني مجازات د محکمو په مقر او تعمیر کې تطبیق کیدل (که څه هم یوه پېښه د ۲۰۲۲م په جنوری کې د ارزګان ولایت په څلورلاری کې او بله د ۲۰۲۲م په اګست کې په غور ولایت کې د یوی لوبې په میدان کې ترسره شوه) او انګیرل کیږی چې په یو وخت کې د ۲ څخه تر ۵ کسانو پوری مجازات کیدل. د ۱۳ د نومبر ۲۰۲۲ څخه وروسته په یوه غونډه کې د ډیرو کسانو مجازاتو کې او په علني ډول د مجازاتو په تطبیق کې د پام وړ زیاتوالی لیدل شوی، چې حاکم چارواکي لوبغالو ته لومړیتوب ورکوي چې د ډیری عامو خلکو او لیدونکو توجه راجلبوي. د مثال په توګه: په ۲۳ د نومبر کې ۱۴ کسان د لوګر ولایت د فوټبال په لوبغالي کې په دُرو ووهل شول،[70] په ۱ دسمبر د کابل ولایت ابتدایي محکمی په داخل کې ۲۱ کسان په دُرو ووهل شول، په ۸ دسمبر ۲۸ کسان د پروان په لوبغالي کې په دُرو ووهل شول.[71]

## ۲.۳ د غیر قضایي ارګانونو لخوا تطبیق شوي بدني مجازات

یوناما ځیني پیښې مستندي کړې چې بدني مجازات د قضایي ارګانونو پرته د نورو چارواکو لخوا ترسره شوي (د ولسوال، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست کارمندانو، پولیس او داستخباراتو کارمندانو په شمول) چې په یو شکل نیمه قضایي دنده اجرا کوي. د قضایي بدني مجازاتو په څیر د زنا او غیر اخلاقي کړنو د ترسره کولو په وړاندي کسان په دُرو وهل شوي.

د مثال په توګه:

- د ۲۰۲۱م کال د دسمبر په ۲۷، د بغلان ولایت د فرنګ ولسوالۍ په مرادی کلي کې، یوه ۱۶ کلنه نجلۍ او ۱۸ کلن سړی د زنا په تور مذهبي مشرانو او پولیسو لخوا هر یو ۵۰  دُرې ووهل شول.
- د ۲۰۲۲م کال د جولای په ۹، د تخار ولایت په تالقان ښار کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست او د استخباراتو ریاست په ګډه ۸ ښځې او ۵ نارینه د غیر اخلاقي کړنو لپاره په عام محضر کې په دُرو ووهل. چې یاده پریکړه د کومې محکمې د حکم په اساس نه وه ترسره شوې.
- د ۲۰۲۲م کال د نومبر په ۱۹، د نورستان ولایت واما ولسوالۍ کې، ولسوال یو ۱۷ کلن هلک د غوریو د غلا په تور محکمه کړ او په عام محضر کې یې ۶۰ دُرې ووهلو، یاده پریکړه د ځیني عالمانو په حضور کې د هلک د استنطاق څخه وروسته صادر شو.

## ۲.۴ اضطراری بدني مجازات

یوناما ځیني داسي پیښې مستند کړي چې پکې په اضطراري یا موقتي توګه بدني مجازات د حاکمو چارواکو لخوا د رسمي پروسې او پریکړو پرته تطبیق شوي.

په ډیرو پیښو کې لیدل کیږي چې دا ډول مجازات د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د کارمندانو لخوا د ځینو احکامو د نه مراعتولو له امله ترسره شوي، پرته له دې د پولیسو او استخباراتو لخوا هم د بدني مجازاتو د تطبیق بېلګې مستند شوي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د کارمندانو لخوا د دې ډول جزا د تطبیق لاملونه د جنسیت له لحاظ توپیر لري. په پیښو کې چې ښځو پوري تړاو لري د جزا لامل د حجاب نه مراعتول او د کور څخه پرته له محرمه[72] وتل ښودل شوي- حتی د ۷۸ کیلومتره څخه په کمه اندازه کې هم مجازات شوي چې لپاره یې د چارواکو لخوا د محرم شتون اړین بلل شوي.[73]

---

[70] [UN Human Rights [@UNHumanRights]](https://twitter.com/UNHumanRights/status/1596140009777598464?s=20&t=DiJiPIQqSmH78zWj4KjBFw) ټویټر، ۲۵ نومبر۲۰۲۲، د ماښام ۶:۲۳ بجې، دلته شتون لري: .https://twitter.com/UNHumanRights/status/1596140009777598464?s=20&t=DiJiPIQqSmH78zWj4KjBFw

[71] [UNAMA News [@UNAMAnews]](https://twitter.com/UNAMAnews/status/1600911066204028929?s=20&t=07d1PZuQc807_NB4l2qAgQ) ټویټر، ۸ دسمبر۲۰۲۲، د ماښام ۱۰:۲۱ بجې، دلته شتون لري: .https://twitter.com/UNAMAnews/status/1600911066204028929?s=20&t=07d1PZuQc807_NB4l2qAgQ

[72] د ښځې میړه اویا هم لومړي خپلوان (پلار، ورور، ماما، کاکا، خوریې یا وراره) چې دشریعت له نظره د  ښځې نکاح ورسره جواز نلري.

[73] MPVPV [@MOPVPE1]، ټویټر، ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۱، د ماسپښین ۴:۴۵ بجې. دلته شتون لري: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA؛ الجزیره، "د نارینه خپلوانو پرته د ښځو لپاره د اوږد واټن سفر نشته: طالبان"، ۲۶ دسمبر ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://www.aljazeera.com/news/2021/12/26/afghanistan-long-distance-travel-women-without-male-escort-taliban

د نارینو پوري اړوند پیښو کې، اکثره مجازات د سلمانیانو په وړاندي تر سره شوي چې د خلکو ړیري یې وړې کړي یا ښریلي وې، دوکانداران چې ښځي یې دوکانونو ته پرته له محرمه د دننه کیدو اجازه ورکړې او نارینه چې مسجد ته د لمانځه لپاره ندي تللي، چې چاړواکو یې د تګ وړاندیز کړی.

دمثال په توګه:

- د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۱۶، د بغلان ولایت په برکه ولسوالۍ کې، یوه نظامي کس دوه کسان د قمار او مخدره توکو د استعمال په تور په دُرو او د ټوپک په کنداغونو ووهل.
- د ۲۰۲۲م کال د اپریل په ۱۲، د هلمند ولایت لشکرګاه ښار کې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر حاکم ریاست کارمندانو ځیني دوکانداران چې پرته له محرمه ښځو ته یې دوکان ته د ورتګ اجازه ورکوله په څپیړو او لغتو ووهل.
- د ۲۰۲۲م کال د اګست په ۱۳، د بامیان ولایت په ښارکې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر حاکم ریاست یو محتسب دوه نجوني او یوه ښځه د بورقې نه اغوستلو په جرم په دُرو ووهلې.
- د ۲۰۲۲م کال د نومبر په ۶، په کابل ښار کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر حاکم ریاست کارمندانو ۶ پیغلې ښځي توقیف کړلې او د هغوی د ښنګرو د ښکاره کیدو په خاطر یې په کیبل/لین او لښتو سره یې په پښو ووهلې.
- د ۲۰۲۲ م کال د نومبر په ۱۴، د هلمند ولایت په لشکرګاه ښار کې حاکمو پولیسو دوه کسه نارینه ودرول او په موټر کې د موسیقی د اوریدو له امله ووهل.

په یوه پیښه کې د سمنګان په ولایت کې یوه ښځه د حاکمو پولیسو لخوا د دُرو وهلو له امله مړه شوه.

- د ۲۰۲۲م کال د نومبر په ۳۰ د سمنګان ولایت په ایبک ښار کې یوه ښځه د زنا او د کورڅخه د تیښتې په اتهام په دُرو ووهل. ښځې د وهلو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ او د هغې جسد یې دهغې کورنۍ ته وسپارل.

# د اعدام یا مرګ سزا



## ۳. د اعدام یا مرګ سزا

د طالبانو واک ته له رسیدلو وروسته، یوناما د قضايي تصویب شوي اعدام یوه بیلګه ثبت کړې، چې په عام محضر کې او د ډیرو لوړ پوړو چارواکو په شتون کې ترسره شوې:

> د ډسمبر په ۷ مه د حاکمو چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد په ټویټر کې اعلان وکړ چې یوه ورځ وړاندې په فراه ولایت کې یو تن د قتل په جرم محکوم په عام محضر کې ووژل شو[74]. دا کس په ۲۰۱۷ کال کې د یو سړي په چړو وهلو او وژلو محکوم شوی و. په ټویټ کې ویل شوي چې مجازات د قرباني د کورنۍ لخوا حاکمو چارواکو ته د شکایت کولو وروسته ترسره شوي، او دا چې قضیه د ټولو دریو قضايي پړاوونو (ابتدايي، استیناف او تمیز) وروسته او دا چې ټولو دریو محکمو د قصاص[75] جزا صادره کړه، وروسته د طالبانو ستر مشر لخوا ومنل شوه. د اعدام په مراسمو کې حاکمو لوړ پوړو چارواکو او د سیمې اوسېدونکو ګډون کړی و، چې په کې د حاکم لومړي وزیر مرستیال ملا عبدالغني برادر، د حاکم امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت وزیر محمد خلیل حنفي، د حاکم کورنیو چارو سرپرست وزیر سراج الدین حقاني او د حاکم بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر امیرخان متقي، د حاکم عدلیې وزیر مولوي عبدالحکیم شرعي، د حاکم پوهنې سرپرست وزیر حبیب الله اغا او د حاکمو چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد شامل وو. د راپورونو له مخې دغه سړی د وژل شوي قرباني پلار له خوا درې ځله په ډزو وویشتل شو[76].

پداسې حال کې چې د راپور له مخې قضیه په ټولو دریو قضايي پړاوونو کې پرمخ تللې، د پروسې د نورو اړخونو او د عادلانه محاکمې تضمین ته د درناوي په اړه هیڅ معلومات شتون نلري. د راپورونو له مخې، حاکمو چارواکو د وژل شوي سړي له مور څخه د مجرم د بخښلو په اړه غوښتنه کړې وه، مګر هغې د هغه په اعدام ټینګار کړی[77].

یوناما د غیر قضايي وژنو یوه بله بیلګه هم ثبت کړې ده. د فبرورۍ په ۱۴ مه د بدخشان ولایت د نسي ولسوالۍ حاکم ولسوال د زنا په تور د یوې ښځې او سړي د سنګسارولو امر ورکړ او تطبیق یې کړ. د راپورونو له مخې د ولسوالۍ حاکم ولسوال د سیمې اوسیدونکې، علما او نور حاکم چارواکې راټول کړي وو ترڅو د دغو دوو کسانو په سنګسار کې برخه واخلي، کوم چې یوه ورځ مخکې نیول شوي وو. د راپورونو له مخې هغه ویلي وو چې دا سزا یې "د شریعت سره سم" ترسره کړې ده.

د ۲۰۲۲ په مارچ کې، داسې راپورونه خپاره شول چې په کندز کې حاکمو چارواکو اراده درلوده چې څو اونۍ دمخه د پولیو د واکسیناتورانو د اته کسیزې ډلې په وژلو تورن څلور نارینه اعدام کړي. د راپور له مخې دا اعدامونه یې د قصاص د سزا په ډول، د قربانیانو د کورنیو د غړو له غوښتنو سره سم ترسره کولې.

---

[74] Zabihullah ذبـیح الله م[@Zabehulah_M33] ټویټر، ۷ ډسمبر ۲۰۲۲، د ماسپښین ۱:۲۱ بجه، دلته شتون لري: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1600412615787675648?s=20&t=7RmnyJvjttrSQqa42ri0vA (پښتو)

[75] قصاص هغه سزا ده چې د قربانیانو د کورنۍ له خوا ټاکل کیږي، چې په ورته ډول غچ اخیستل، د خون په مقابل کې پیسې یا مرتکب ته بخښه کول شامل دي.

[76] د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، په افغانستان کې د اعدامونو په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر د ویاند جیریمي لارنس نظریه، ۲۰۲۲ کال د ډسمبر ۷مه نیټه. دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/press-releases/2022/12/comment-un-human-rights-office-spokesperson-jeremy-laurence-afghanistan#:~:text=The%20death%20penalty%20is%20incompatible,death%20penalty%20in%20its%20entirety

[77] د بي بي سي خبري رسنۍ، "قاتل د قرباني د پلار لخوا په عام محضر کې اعدام کړل شو، طالبان وايي"، د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر ۷مه. دلته شتون لري: https://www.bbc.com/news/world-asia-63884696

لېترلېره د ځلورو تورنو کسانو څخه درې يې د ۱۸ کلونو څخه کم عمر درلود. د کورنۍ غړي او مدافع وکيلان تورنو کسانو ته د لاسرسي څخه منع شوي وو، دغه تورن کسان د حاکم استخباراتو عمومي رياست لخوا ساتل کيدل. دا اعدامونه وروسته تطبيق نه شول.
يوناما د تورنو مجرمينو د جسدونو پيښې هم ثبت کړې، چې د حاکمو امنيتي ځواکونو لخوا وژل شوي، او ډيری يې په هرات ولايت کې ځړول شوي وو. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۱۶مه، د حاکم استخباراتو د عمومي رياست چارواکو يو شپږ کلن ماشوم چې ادعا کېږي برمته شوی و، وژغوره او د عملياتو په ترڅ کې يو تورن تښتونکی وواژه. د هغه جسد د ښار په منځ کې په يوه چوک کې ځړول شوی و. په هرات کې د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵ راهيسې لږ تر لږه اوه داسې پېښې ثبت شوې دي. نړيوالي محکمې په ځينو مواردو کې په دې نظر دي چې د کورنۍ غړو ته د خپلو خپلوانو د مړي سره د چلند په نتيجه کې رسېدلی رنځ ښايي دغيرانساني او سپک چلند[78] حد ته له نږدې کيدو په مانا وي، پداسي حال کې چې دغه رنځ د مړينې له امله د رامينځته شوي کړاو يا غم څخه په ماهيت کې توپير لري[79].

## پايلي

بدني مجازات، چې تعريف يې داسې شوی: 'هره هغه سزا چې فزيکي ځواک په کې کارول کيږي او هدف يې د يو څه درد يا ناراحتۍ لامل کيږي، که څه هم لږ وي'[80]، د شکنجې او ظالمانه، غيرانساني او سپکاوي چلند يا مجازاتو د منعې څخه سرغړونه ده، او له همدې امله نه يوازې د افغانستان د بشري حقونو له مکلفيتونو، بلکې د نړيوالو قوانينو له بنسټيزو اصولو سره هم په ټکر کې ده.
يوناما د زنا يا "تيښتې" او همجنسبازۍ اړوند د بدني مجازاتو ډېر مثالونه مستند کړي دي. هغه ښځې چې په عامه توګه د زنا او نورو اخلاقي جرمونو لپاره مجازات کيږي ممکن د مجازاتو وروسته د دوی د کورنيو او ټولنو لخوا د تاوتريخوالي له خطر سره مخ شي، ځکه د واده څخه بهر اړيکو ساتلو په تور د ښځو په وړاندې خورا لويه بدنامي شتون لري، چې د حاکمو چارواکو لخوا هم "غيرقانوني" ګڼل کيږي. د زنا په تور د ښځو محاکمه د افغانستان د بشري حقونو له نړيوالو مکلفيتونو سره په ټکر کې ده ځکه چې دا د ښځو په وړاندې تبعيض په ځانګړې توګه د هغوی د حرکت د ازادۍ، محرميت او د قانون په وړاندې د برابرۍ له حقونو څخه جدي سرغړونه ده.[81]
همدارنګه همجنسباز، دوجنسباز، دوجنسيتي يا نربښځي چې د همجنسبازۍ په "جرم" مجازات شوي هم احتمال لري چې د ډېر لوی ګواښ سره مخ شي که يې کورنۍ يا ټولنه د مجازاتو څخه خبره شي.[82] ټول انسانان، پرته له هر ډول جنسي تمايلو، د بشري حقونو د نړيوال قانون له خونديتوب څخه برخمن دي[83].
بدني مجازات، د بشري حقونو د نړيوال قانون څخه د سرغړونې سربېره، کيدای شي هغو کسانو ته چې ورسره مخ دي سخت فزيکي او رواني زيان ورسوي. اوسنی سياسي وضعيت او بشردوستانه بحران چې افغانستان ورسره مخ دی د طبي او رواني-ټولنيزو خدماتو د تمويل په برخه د کمښت لامل شوی - پدې معنی چې هغه اشخاص چې د بدني مجازاتو په پايله زيانمن کيږي، دغو خدماتو ته د هغوی د لاسرسي احتمال ډېر لږ دی.

د طالبانو د لومړي رژيم پر مهال، د سره صليب نړيواله کميټه او د ميډيسن سنس فرنټير په څېر بشردوستانه سازمانونه له داسې شرايطو سره مخ وو چې د دوی تاسيساتو ته به يې هغه کسان چې د مجازاتو په توګه يې د بدن اعضاوې پرې شوې وې د درملنې لپاره راوړل[84]. دا سازمانونه اړ سول په دې اړه غور وکړي چې ايا دا ډول خدمات خو به دوی د بشري حقونو خلاف کړنو کې نه شريکوي.

ملګرو ملتونو په وار وار او په ټولو حالاتو کې د اعدام يا مرګ له سزا سره خپل سخت مخالفت څرګند کړی او د بشري حقونو له ميکانيزمونو سره په ګډه يې پر هغو هېوادونو چې د اعدام سزا تطبيق کوي غږ کړی چې د اعدام د سزا د ختميدلو په موخه د اعدام پر سزا سمدستي بنديز وضع کړي.[85]

---

[78] د بشري حقونو بين الامريکايي محکمه، مويوانا کلی په سورينام کې، ۲۰۰۵، ۹۸ تر ۱۰۰م پاراګراف؛ د بشري حقونو بين الامريکايي محکمه، د ريونيګرو قتل عام په ګواتمالا کې، ۲۰۱۲، ۱۵۱ تر ۱۶۵ پاراګراف پورې.

[79] د اروپا د بشري حقونو محکمه، اککوم او نور په ترکيه کې، شماره ۹۳/۲۱۸۹۴، ۲۰۰۵، ۲۵۸م پاراګراف؛ هادجياليوف او نور په روسيه کې، ۰۴/۳۰۱۳، ۲۰۰۸، ۱۲۱م پاراګراف؛ د بشري حقونو بين الامريکايي محکمه، ناديج دورزيما په جمهوري دومينيکا کې، ۲۰۱۲، ۱۱۷ تر ۲۵۲ پاراګراف.

[80] عمومي نظريه شميره ۸: د بدني مجازاتو او نورو ظالمانه يا سپکاوي ډک چلند څخه د ماشوم د ساتنې حق، (۲۰۰۶) ۱۱م پاراګراف.

[81] ۲(f)، ۱۵(۱) او ۱۵ (۴) مادې، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون؛ ۲، ۳، ۱۲، ۱۴، ۱۷ مادې، د سياسي او مدني حقونو نړيوال ميثاق؛ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کميټه، عمومي نظريه شميره ۲۸: ۳مه ماده (د نارينه او ښځو تر منځ د حقونو مساوات)، CCPR/C/21/Rev.1/Add.10، ۲۹ مارچ ۲۰۰۹، ۱۴، ۱۶ پاراګراف. د يوناما/OHCHR، د تګ يوه لاره: په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د قانون د تطبيق په اړه تازه معلومات، ۲۰۱۳ هم وګورئ؛ د يوناما/OHCHR، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون د تطبيق په اړه تازه معلومات، ۲۰۱۳؛ يوناما/OHCHR، عدالت د افغان ښځو له نظره: د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيې د منځګړيتوب او د محکمې د پريکړو له لارې حل شوي، ۲۰۱۵. دلته شتون لري: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports

[82] د بشري حقونو د څار اداره، https://www.hrw.org/report/2022/01/26/even-if-you-go-skies-well-find-you/lgbt-people-afghanistan-after-taliban-takeover.

[83] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د جنسي تمايل او جنسيتي هويت پر بنسټ د افرادو پر وړاندې تبعيض او تاوتريخوالی، ۴ مې ۲۰۱۵، A/HRC/29/23.

[84] شرعي مجازات، سلوک او خپل بړغ پورته کول. BMJ. 1999 Aug 14; 319(7207):445-7، دلته شتون لري: https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC1127048/#

[85] د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ، د اعدام د سزا د کارولو په اړه د عمومي منشي تازه راپور، ۸ اګست ۲۰۲۲، A/77/274

د ملګرو ملتونو سرمنشي یادونه کړې چې د مرګ د سزا نافذول په زیاتیدونکي توګه د بشري حقونو له بنسټیزو اصولو سره په ځانګړې توګه د ژوند کولو حق او د شکنجې منع کولو سره په ټکر کې ګڼل کیږي.[86] د بشري حقونو کمیټې ویلي چې سنګسارول او په عام محضر کې اعدامول د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي چلند یا سزا د مخنیوي سره مخالف دي او له همدې امله د اعدام ماهیت خپلسري کوي.[87]

د اعدام یا مرګ د سزا د لغوه کیدو تر وخته، افغانستان باید د مرګ سزا تر "ډیرو جدي جرمونو" پورې محدوده کړي؛ ډاډ ترلاسه کړي چې د اعدام سزا هیڅکله د ۱۸ کالو څخه کم عمره کسانو، امیندوارو میرمنو، او د جدي رواني - ټولنیز یا ذهني معلولیت لرونکي اشخاصو په وړاندې نه کارول کیږي؛ د بخښنې او د سزا د تبدیلولو د حق په شمول د عادلانه محاکمې او د مناسبې پروسې تضمینونو ته د سخت درناوي ډاډ ترلاسه کړي، ډاډ ترلاسه کړي چې د مرګ سزا د تبعیضي قوانینو پر بنسټ یا په تبعیضي یا خپلسري ډول د قانون د پلي کولو په پایله کې نه اجرا کیږي؛ او ډاډ ترلاسه کړي چې د مرګ سزا د تطبیق کولو په اړه شفاف او کره معلومات شتون لري.

په افغانستان کې حقوقي سیسټم اوس مهال د لږ تر لږه عادلانه محاکمې او د پروسې د تضمین په ساتنه کې پاتې راغلی، پداسې حال کې چې مدافع وکیلان د مراجعینو سره د لیدنې او توقیف ځایونو ته د لاسرسي په برخه کې د ستونزو او د قضايي پروسو څخه د وکیلانو د ګوښه کولو په اړه راپورونه ورکوي. د حاکمو چارواکو لخوا ښځینه مدافع وکیلانو ته د جواز نه ورکول او له قضايي سیسټم څخه د ښځینه قاضیانو ایستل د ښځو او نجونو د حقوقي استازیتوب د ترلاسه کولو په وړتیا، د قانون په وړاندې د هغوی په برابرۍ او عدالت ته د لاسرسي په برخه کې ځانګړې اغیزه لري.

---

[86] د سرمنشي د ویاند د دفتر لخوا ورځنۍ مطبوعاتي خبرتیا، د سرمنشي مرستیال ویاند سټیفني ټریمبلي لخوا ماسپښینۍ خبرتیا، ۷ دسمبر۲۰۲۲، دلته شتون لري: https://press.un.org/en/2022/db221207.doc.htm؛ د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ، د مرګ د سزا د کارولو په اړه د عمومي منشي راپور، ۸ اګست ۲۰۲۲، A/77/274.

[87] د بشري حقونو کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳۶: شپږمه ماده (د ژوند حق)، ۲۰۱۹، ۴۰م پاراګراف. د عامه اعدامونو په اړه، د ۲۰۰۵/۵۹ پریکړه لیک کې، د بشري حقونو کمیسیون له ټولو هغو هیوادونو څخه وغوښتل چې لاهم د اعدام سزا پې کاروله چې "ډاډ ترلاسه کړي، کله چې د اعدام سزا تطبیق کیږي، په داسې ډول تطبیق شي چې تر ټولو لږ کړاو رامنځته کړي او باید په عام محضر کې او یا بل سپکونکي ډول ترسره نشي، (...)". د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون، د بشري حقونو پریکړه ۲۰۰۵/۵۹: د مرګ د سزا موضوع، ۲۰ اپریل ۲۰۰۵، E/CN.4/RES/2005/59، ۷م پاراګراف (i). دا بندیز د ملګرو ملتونو د سرمنشي لخوا بیاځلي تایید شو، د عمومي سرمنشي راپور وګورئ، د مرګ د سزا موضوع، ۱۴ سپتمبر ۲۰۱۸، A/HRC/39/19، ۳۸م پاراګراف.

UNAMA